# هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زيات محبوب وي، يعنې (د ذی الحجې) لس ورځې

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زيات محبوب وي، يعنې (د ذی الحجې) لس ورځې،، هغوی وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه؟ هغه وفرمايل: او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره وتلی وي او له هغې څخه هېڅ شی بېرته رانه وړي».

[صحيح] [بخاری او أبو داود روایت کړی او لفظ د همده دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې نیک اعمال د کال له نورو ټولو ورځو څخه غوره دي. صحابه کرامو رضی الله عنهم له رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې لسو ورځو پرته په نورو ورځو کې د جهاد په اړه پوښتنه وکړه، چې آیا جهاد غوره دی که نه؛ پدې لسو ورځو کې نور نیک عملونه غوره دي؟ ځکه هغوی باوري وو چې جهاد تر ټولو غوره عمل دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ چې: پدې ورځو کې نیک عمل په نورو وختونو کې له جهاد څخه غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې ځان او مال د الله جل جلاله په لاره کې په خطر کې واچوي ، نو مال له لاسه ورکړي او ساه يې هم د الله جل جلاله په لاره کې وخیږي. نو دا هغه څه دي چې پدې مبارکو ورځو کې له نیک عمل څخه غوره دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6255